U.S. Citizenship and Immigration Services

# د مهاجرت درغلیو او جعلي
# پروګرامونو څخه ځان وساتئ

مو‌ږ نه غواړو چې تاسو د درغلۍ او کډوالۍ جعلکارۍ قرباني شئ. که تاسو د مهاجرت مسلو په اړه قانوني مشورې ته اړتیا لرئ، تاسو باید پام ولرئ چې هغه څوک چې تاسو سره مرسته کوي یا یو وکیل وی یا د متحده ایالاتو د عدلیې وزارت د یوې پېژندل شوی سازمان استازی به وی. دا یوازینی خلک دي چې اجازه لری تاسو ته قانوني مشوره درکړي. د درغلۍ څخه د مخنیوي په اړه د ګټورو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ دا لینک نه **uscis.gov/avoidscams** لیدنه وکړئ. لاندې ځینې عام درغلی موارد دي چې تاسو یې باید خبر یاست:

**جعل کوونکی (د چارواکو په حیث):** ډیر محتاط اوسئ که څوک ادعا کوی چې د تابعیت او کډوالی خدمتونو دفتر یا (USCIS) چارواکي نه دی. USCIS به تاسو سره یوازې د رسمي دولتي چینلونو له لارې اړیکه ونیسي او ستاسو د شخصي ټولنیزو رسنیو حسابونو (لکه فیسبوک، ټویټر، لینکدن، او نور) له لارې به تاسو سره اړیکه ونه نیسی.

**د مرستې غلط وړاندیز:** محتاط اوسئ که څوک تاسو سره آنلاین یا د ټولنیزو رسنیو حسابونو له لارې اړیکه ونیسي او تاسو ته د مرستې او خدماتو چمتو کولو په بدل کې د فیس یا بل ډول حق الزحمه غوښتنه وکړي. همداسی، محتاط اوسئ که څوک د ملاتړ یا خدماتو چمتو کولو په پلمه د ټولنیزو رسنیو حسابونو له لارې ستاسو د شخصي معلوماتو لکه ستاسو د پاسپورټ شمیره یا د زیږون نیټه، غوښتنه کوي.

**د جعلکارۍ ویب پاڼې:** ځینې انټرنیټي پاڼې ادعا کوي چې د USCIS دفتر پورې تړاو لري او د USCIS فورمه ډکولو لپاره ګام په ګام لارښوونې چمتو کوي. ډاډ ترلاسه کړئ چې دا معلومات د رسمي ویب پاڼو لکه **uscis.gov,** **dhs.gov** یا د **uscis.gov** پورې اړوند دي. ځان مطمین کړئ چې د ویب پاڼې په پای کې د **gov.** وی.

**د تلیفون یا بریښنالیک له لارې تادیه کول:** USCIS به هیڅکله له تاسو نه وغواړي چې خلکو ته پیسې واستوئ. موږ د مهاجرت خدماتو فیس په توګه د ویسټرن یونین، منی ګرام، پی پال PayPal، MoneyGram، Western Union، یا ګیفت کارت له لارې پیسې نه منو. برسیره پردې، موږ به هیڅکله له تاسو نه وغواړو چې اشخاصو ته د تلیفون یا بریښنالیک له لارې د خدماتو فیسونه ورکړئ.

**د اسنادو د تائید عامه دفترونه او د مهاجرت قانون غیر مجاز کارکونکی:** په متحده ایالاتو کې د اسنادو د تائید عامه دفترونه یا نوټري پبلک اجازه نلري چې تاسو ته د مهاجرت کټو پورې اړوند کوم قانوني خدمات چمتو کړي. یوازې یو وکیل یا د متحده ایالاتو د عدلیې وزارت د یو پیژندل شوی سازمان معتبر استازی حق لري چې تاسو ته قانوني مشوره درکړي. د قانوني خدماتو موندلو په اړه د نورو معلوماتو لپاره، دې لینک ته مراجعه وکړئ **uscis.gov/scams-fraud-and-misconduct/avoid-scams/find-legal-services.**

# خپل ځان د هغه جعلکارانو څخه وساتئ
# چې ستاسو شخصي معلومات لټوي

U.S. Citizenship and Immigration Services

د هغو خلکو څخه محتاط اوسئ چې ستاسو د شخصي معلوماتو غوښتنه کوي. د ګټورو معلوماتو لپاره، د افغان اتباعو لپاره د معلوماتو ویب پاڼه **uscis.gov/allieswelcome** وګورئ.

**کله چې د بریښنالیک لوستل، تل دا ټکي په ذهن کې وساتئ:**

- دا زموږ لپاره خورا عادي نه ده چې تاسو ته د بریښنالیک له لارې د مهاجرت لاټرۍ ویزې ، د کډوالۍ ویزې، غیر مهاجرت ویزې، یا د کډوالۍ کوم بل ډول ګټو په اړه خبر درکړو، پرته له ځانګړو شرایطو کې. د مثال په توګه، USCIS ممکن تاسو ته د رسمي uscis.gov پتې څخه یو رسمي بریښنالیک واستوي ترڅو ستاسو د استوګنې پته تغییر کړي.
- د متحده ایالاتو د حکومتي ځانګو رسمي بریښنالیک پتې تل په **.gov** پای ته رسیږي. تل د بریښنالیک لیږونکي معلومات چیک کړئ ترڅو ډاډ ترلاسه کړئ چې په پای کې **.gov** لیکل شوی وی.

**دا هم په یاد ولرئ:**

- د USCIS د ټولو اړوندو ویبپاڼو په سر کې، یو پیغام او د متحده ایالاتو د بیرغ عکس شتون لری ترڅو تاسو پوه شئ چې دا پاڼه رسمي ویب پاڼه ده. او
- که ستاسو شخصي معلومات اسنادونه لکه ستاسو د استخدام د جواز سند (EAD) یا ستاسو ټولنیز امنیت کارت یا سوشل سیکیورټی، یو زاړه یا غلط پته ته سپارل شوي، یو څوک کولای شی ستاسو د هویت څخه ناوړه ګټه پورته کړي. که تاسو خپل د کار جواز یا EAD د لیږلو وروسته نه وي ترلاسه کړی، تاسو کولی شئ د دا لینک له لاری **egov.uscis.gov/e-request/Intro.do** موږ ته خبر راکړئ چه خپل سند نه وي ترلاسه کړی. که تاسو شک لرئ چې یو چا ستاسو په وړاندې ستاسو سوشل سیکیورټی شمیره په درغلۍ سره کارولې وي، د سوشل سیکیورټی د درغلیو مخنیوي او راپور ورکولو ویب پاڼې ته لاړ شئ **ssa.gov/fraud**.
- USCIS به هیڅکله له تاسو څخه د پیسو یا خدماتو فیس اشخاصو ته د لیږد غوښتنه ونه کړي. د خدماتو فیس یوازې د دې دفتر آنلاین حساب له لارې چې د دې لینک سره تړل شوي **my.USCIS.gov** تادیه کیږي. تاسو کولی شئ هغه وخت تصدیق کړئ چې د USCIS آنلاین حساب د متحده ایالاتو د حکومت رسمي حساب دی چې بریښنالیک پته په **.gov** سره پای ته رسیږي.

**مهمې اړیکې**

د USCIS درغلیو او جعلکارۍ د پوهاوي پروګرامونه
**uscis.gov/avoidscams**

د متحده ایالاتو د عدلیې وزارت لخوا تایید شوی استازو او پیژندل شوی سازمانونه لیست
**justice.gov/eoir/recognized-organizations-and-accredited-representatives-roster-state-and-city**

Pashto